United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي د مرستیالې، جورجیت ګانیون راپور**

**نیویارک، ۲۰۲۶ کال د جون ۸مه**

[په هغه بڼه، چې وړاندې شوې]

ښاغلی رئیس،

ما په تېرو اونیو کې د افغانستان لرې پرتو سیمو، شمالي ولایتونو او په ختیځ کې پولې ته څېرمه پرتو سیمو ته سفرونه وکړل. په دغو سفرونو کې مې له افغانانو، په تېره بیا راستنو شوو کډوالو، سوداګرو، زلزلو او جګړه ځپلو کورنیو، کلیوالي او ښاري اوسېدونکو او ښځو او نجونو څخه یو شان پیغام اورېدلی دي، چې دوی ټولو د بشري، اقتصادي او یا د بشري حقونو په برخه کې د دوی پر وړاندې زیاتېدونکو فشارونو یادونه کړې ده.

افغانستان په ظاهري توګه د واکمنو چارواکو تر اداري لاندې لا هم باثباته ښکاري. د هېواد پر قلمرو او اداري جوړښتونو کنټرول لا پیاوړی شوی او د هغوی د واکمنۍ پر وړاندې کومه د پام وړ وسله واله یا سیاسي ننګونه نه تر سترګو کېږي. واکمن چارواکي په ټول هېواد کې د سولې او امنیت ټینګول، خپله تر ټولو ستره لاسته راوړنه بولي.

خو د افغانستان اوږدمهاله راتلونکې احتمالي سناریوګانې تر ډېره د واکمنو چارواکو د حکومتي جوړښت دننه پر داخلي تحرکاتو پورې تړاو لري، په ځانګړې ډول د هغو ایډیولوژیکو پالیسیو او نسبتاً عملي او واقع بینانه تګلارو ترمنځ پر موجود کړکېچ، چې ایډیولوژیکې پالیسۍ یې پر افغان ولس درانه بارونه وراچولي، په داسې حال کې چې عملي او واقع بینانه تګلارو تر دا مهاله د دې نظام د دوام او پایښت په ساتلو کې مرسته کړې ده.

اوس مهال هغه څه چې په واقعیت کې شتون لري، د واکمنو چارواکو له خوا د کنټرول پرلپسې زیاتوالی دی، پرته له دې چې د وروستي حالت (End state) په اړه کوم روښانه درېځ موجود وي.

د خطرونو او بې‌باوریو د دې مخ پر زیاتېدونکې وضعیت په رڼا کې، زه پنځو یو له بل سره تړلو برخو ته اشاره کوم: سیاسي او اقتصادي تحرکات؛ د ښځو او نجونو وضعیت؛ د بشري حقونو پراخ بدلونونه؛ سیمه‌ییز تحرکات؛ او د دوامداره او همغږي نړیوال تعامل اهمیت.

ښاغلی رئیس،

د لوی اقتصاد شاخصونه د ثبات ځینې نښې څرګندوي: اقتصادي وده په مطلق ډول مثبته پاتې شوې، په زیربنایي برخو کې ځینې اوږدمهاله پانګونې شوې دي، مالي ټیکاو ساتل شوی او د عوایدو راټولولو کې زیاتوالی راغلی، سره له دې چې بندیزونه، پراخې سیمه‌ییزې ترینګلتیاوې او د تېر کال د اکتوبر میاشتې راهیسې د ختیځې پولې تړل کېدلو په څېر ننګونې لا هم موجودې دي. نسبي ټیکاو هم د ځینو مثبتو اقداماتو لپاره زمینه برابره کړې، لکه د کوکنارو د کښت نږدې بشپړه له منځه وړنه.

خو لا هم مهم خطرونه شته چې د اقتصادي ټیکاو د اوسنیو هڅو کموالی او جدي سیاسي اغېزې یې په ډاګه کوي. تر ټولو مهم خطر د نفوسو بدلون دی. له ګاونډیو هېوادونو څخه په پراخه کچه د افغان کډوالو راستنېدنې د دې هېواد نفوس په ناڅاپي توګه زیات کړی دی. د ۲۰۲۳ کال راهیسې نږدې ۵،۹ میلیونه کسان افغانستان ته راستانه شوي، چې د هېواد د ټول نفوس له لس سلنې څخه ډېر زیاتوالی جوړوي.

اټکل کېږي چې روان کال کې به تر ۲،۸ میلیونو پورې نور افغانان هم بېرته راستانه شي، چې ډېری یې محدودې شتمنۍ او د معیشت محدود فرصتونه لري. افغانان داسې ټولنو او اقتصاد ته راستنېږي چې په بشپړه توګه د دوی د بیا ادغام او جذب وړتیا نه لري. د نړیوال بانک راپور ښیي چې افغانان په واقعي اقتصادي لحاظ لا پسې بېوزله کېږي.

د دې فشار د کمولو لپاره، موږ پر ټولو هغو هېوادونو چې افغانستان ته افغانان ستنوي، د ملګرو ملتونو د سرمنشي هغه غږ او غوښتنه یو ځل بیا په ټینګار سره تکراروو چې، د خوندیتوب په برخه کې د"نه جبري ستنولو" اصل په ګډون، خپلې نړیوالې ژمنې او مکلفیتونه رعایت کړي، او افغان کډوال په داوطلبانه، خوندي او باعزته ډول خپل هېواد ته راستانه او د راستنېدونکو د بېرته یوځای کېدو لپاره پایداره ملاتړ برابر شي.

افغانستان لا هم یو ستر نړیوال بحران پاتې دی، چې په ۲۰۲۶ کال کې یې ۲۱،۹ میلیونه وګړي، چې د ټول نفوس ۴۵ سلنه جوړوي، بشري مرستو ته اړتیا لري.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان د نفوسو جوړښت هم د هېواد د راتلونکي مسیر د درک لپاره بنسټیز اهمیت لري. د دې هېواد له نیمايي څخه ډېر نفوس تر ۲۵ کلنۍ کم عمر لري.

دغه نسل په داسې وخت کې د ځوانۍ پړاو ته رسېږي چې فرصتونه؛ په تېره بیا د نجونو لپاره، خو په زیاتېدونکې توګه د هلکانو لپاره هم، محدود شوي دي. له همدې امله، ډېری ځوانان د خپل راتلونکي لپاره نورو ځایونو ته د تګ په لټه کې دي.

اقتصادي عوامل هم په دې برخه کې رول لري لکه: د کارموندنې محدود فرصتونه، د کورنیو د عوایدو کمښت، او د کمو کاري فرصتونو لپاره مخ پر زیاتېدونکې سیالي، په ځانګړي ډول په ښاري سیمو کې چې وار دمخه د راستنېدونکو د زیات شمېر له امله تر فشار لاندې دي.

چاپېریالي فشارونه هم شته: افغانستان لا هم د اوږدمهالې وچکالۍ، د اوبو له کمښت او د طبیعي ایکوسیستمونو له تخریب سره مخ دی. دغو عواملو کرنیز عایداتي فرصتونه او معیشتونه زیانمن کړي، حال دا چې کرنه د دې هېواد د څه باندې ۷۰ سلنه وګړو د عاید اصلي سرچینه ده، او په کلیوالو سیمو کې یې اقتصادي ستونزې لا پسې زیاتې کړې دي.

د دغو عواملو یوځای کېدل موجود خطرونه څو برابره زیاتوي او داسې شرایط رامنځته کوي چې د کډوالۍ د زیاتېدو، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي محرومیت، د ناامنۍ د پراخېدو او د تُندلارۍ د احتمالي زیاتوالي لپاره زمینه برابروي.

ښاغلی رئیس،

د افغان ښځو او نجونو د وضعیت په اړه، اړینه ده چې خبره په بشپړ وضاحت سره وشي. هغه څه چې موږ یې شاهدان یو، سخت او مخ پر زیاتېدو محدودیتونه دي او دا داسې سیستماتیک او بنسټیز زیانونه دي، چې نسلونه به پر افغان ټولنه ژورې او دوامدارې اغېزې ولري.

اټکل کېږي چې د ۷ او ۱۸ کلونو ترمنځ ۳،۸ میلیونه نجونې له زده‌کړو بې‌برخې دي، چې له دې ډلې څه باندې ۲،۶ میلیونه یې پېغلې نجونې دي. هر کال شاوخوا ۲۵۰۰۰۰ نورې نجونې د منځنۍ زده‌کړو له بهیر څخه د تل لپاره محرومې کېږي، چې په پایله کې یې د استعدادونو او ظرفیتونو یو له لاسه تللی نسل رامنځته کېږي.

د دې اغېزې یوازې تر زده‌کړو پورې محدودې نه دي.

د یونیسف وروستی تحلیل په ډاګه کوي چې د ښځو پر زده‌کړو او کار کې ګډون باندې لګېدلې محدودیتونه لا له اوسه د افغانستان اقتصاد ته زیان رسوي او د هېواد اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ کمزوری کوي.

د روغتیا او پوهنې په څېر سکتورونه د مسلکي ښځینه کادرونو له کمښت سره مخ دي، او اټکلونه ښيي چې تر ۲۰۳۰ کال پورې به له ۲۵ زرو څخه زيات ماهر او مسلکي کارکوونکي له لاسه ووځي.

دا وضعیت په مستقیم ډول د خدمتونو پر وړاندې کولو اغېزه کوي. د افغانانو، په ځانګړې ډول د ښځو او ماشومانو، روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی محدودوي او د میندو او ماشومانو د روغتیا پایلې لا پسې خرابوي.

دغه زیانونه، که انساني وي او یا اقتصادي، د وخت په تېرېدو سره به لا پسې زیات او دوه برابره شي. د حل لاره دا ده چې واکمن چارواکي، د ټولو افغانانو د ګټې لپاره د ښځو او نجونو پر زده‌کړو او کار لګېدلي محدودیتونه پای ته ورسوي، او له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان په اړیکو کې د یوه نوي فصل د پرانیستې لپاره لاره هواره کړي.

په دې شرایطو کې، د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځینه داخلي کارکوونکو پر تګ دوامداره بندیز، هره ورځ موږ ته د هغو زیانمنو اغېزو یادونه کوي چې پر افغان ښځو لګېدلو محدودیتونو په ټول هېواد کې رامنځته کړې دي.

موږ یو ځل بیا له واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کوو چې د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځینه داخلي کارکوونکو د ورتګ په ګډون چې د ملګرو ملتونو له منشور سره په ټکر کې ده، پر ښځو او نجونو ټول لګېدلي محدودیتونه لرې کړي.

موږ ګورو چې د بشري حقونو وضعیت لا پسې خرابېدونکی دی، چې د لا ډېرې پاملرنې او جدي اندېښنې وړ دی.

د زوجینو د تفریق په اړه ۱۸ ګڼه وروستی فرمان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو کنوانسیون له بنسټیزو اصولو او همدا راز د ماشومانو له حقونو څخه سرغړونه ده. دا د هغو څو وروستیو فرمانونو او اقداماتو له ډلې څخه دی چې په تدریجي ډول داسې یو نظام بنسټیز او رسمي کوي چې د افغانستان د بشري حقونو نړیوالو مکلفیتونو او ژمنو څخه واټن لا پسې زیاتوي. په دې لړ کې هغه وروستي راپورونه هم شامل دي چې له مخې یې په هرات کې شاوخوا ۳۰ ښځې د امر بالمعروف او نهې عن المنکر د محتسبینو او پولیسو له خوا د طالبانو د لباس د ټاکلي طرزالعمل د نه مراعات کولو په تور نیول شوې دي.

په دې وروستیو کې د خبریالانو نیونې او د ځینو رسنیو تړل کېدل د بیان د آزادۍ د کمېدو او د مدني فضا د پرله‌پسې تنګېدو څرګندې نښې دي.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې د پولې د دوامداره تړل کېدو، امنیتي پېښو او پوځي تحرکاتو له امله لا هم ترینګلې دي.

د دغو ترینګلتیاوو اغېزې چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي په راپور کې یې هم یادونه شوې، سملاسي او محسوسې دي: د پولې تړل کېدو سوداګري ګډوډه کړې، بازارونو ته لاسرسی یې کم کړی او د توکو بیې یې لوړې کړې دي.

سربېره پر دې، دغه وضعیت د بشري مرستو رسولو چارې هم له خنډونو سره مخ کوي او زیان‌منونکو خلکو ته د لاسرسي امکانات محدودوي.

د پولې هاخوا پېښو له امله د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي په راپور او د یوناما په راپورونو کې ذکر شوي، د دې شخړې انساني اغېزې په ډاګه کوي. د پولې دواړو غاړو ته ملکي وګړي د هغو سیاسي اختلافاتو بیه پرې کوي چې باید د ډیپلوماسۍ او خبرو اترو له لارې حل شي.

یوناما یو ځل بیا د تاوتریخوالي د کمولو او د یوه تلپاتې اوربند د رامنځته کېدو لپاره د دوامداره هڅو، د سرحدي لارو د بېرته پرانیستلو په اړه یوې هوکړې ته د رسېدلو، په ځانګړې ډول د بشري مرستو د لېږد لپاره، او د اختلافاتو د حل په موخه د سوله‌ییزو خبرو اترو غوښتنه کوي. په دې اختلافاتو کې د هغو ترهګرو ډلو د دوامداره حضور موضوع هم شامله ده چې د افغانستان په خاوره کې د فعالیت په اړه یې د بندیزونو د څار ډلې راپور ورکړی دی.

مور د غړو هېوادونو هغو روانو هڅو هرکلی کوو چې موخه یې د ترینګلتیاوو کمول او د پاکستان او د افغانستان د واکمنو چارواکو ترمنځ خبرو اترو ته لاره هوارول دي.

ښاغلی رئیس،

د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۲۰۲۳ کال (۲۷۲۱) ګڼه پرېکړه لیک کې د تعریف شوي وروستي حالت پر لور د تګ لپاره د یوناما د هڅو په تړاو، زه یو ځل بیا په ټینګار سره وایم چې، تعامل د اوسني حاکم رژیم د تأیید یا رسمیت پېژندنې په مانا نه دی. دا تعامل د وضعیت د درک، د خبرو اترو د اسانتیا او د افغانانو د لا ښه ملاتړ لپاره اړین دی. همدارنګه، دا تعامل د نړیوالې ټولنې پر وړاندې پرتو خطرونو د څارنې، مهارولو، له منځه وړلو او د هغوی د اغېزو په کمولو کې مرسته کوي.

یوناما په ټول افغانستان کې د خپل مرکزي دفتر او د هېواد په بېلابېلو برخو کې د خپلو اتو ساحوي دفترونو له لارې، او د ملګرو ملتونو ټول سیستم خپل فعال حضور ته دوام ورکوي. دوی هره ورځ له ټولنو او افغانانو سره په اړیکه کې دي، د بشري او بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې مرسته کوي، او په هېواد کې د سیاسي او بشري حقونو د وضعیت وروستي بدلونونه څاري، راپورونه یې ورکوي او د اړتیا په صورت کې عملي اقدامات ترسره کوي.

یوناما همدا راز په ټول هېواد کې له واکمنو چارواکو سره په دوامداره توګه تعامل کوي. که څه هم د پام وړ توپیرونه او اختلافات موجود دي، خو د خبرو اترو او ډیالوګ لپاره لارې پرانیستې او روښانه دي.

د دوحې بهیر په اوس مهال کې یوه داسې بنه ده، چې پر مهمو سیاسي موضوعاتو پکې خبرې اترې کېږي او یو داسې څو اړخیز چوکاټ دی چې نړیوال او سیمه‌ییز لوبغاړي د واکمنو چارواکو سره د منظم تعامل لپاره سره راغونډوي، څو د هغه وروستي هدف پر لور حرکت وشي چې د امنیت شورا تأیید کړی دی؛ یعنې داسې افغانستان چې خپله او له خپلو ګاونډیانو سره په سوله کې وي، په بشپړه توګه له نړیوالې ټولنې سره بېرته یوځای شوی وي، او د افغانانو د هوساینې او ګټو لپاره خپلې نړیوالې ژمنې او مکلفیتونه پرځای کړي.

د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو د لومړۍ غونډې له جوړېدو درې کاله وروسته، د یوې جامع تګلارې په رامنځته کولو کې یو څه پرمختګ شوی چې هم د افغانانو ګټې خوندي کوي او هم د نړیوالې ټولنې د موخو ملاتړ کوي. خو لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي په راپور کې یادونه شوې، لا هم زیاتو هڅو ته اړتیا شته. مور د سرمنشي هغه غوښتنه یو ځل بیا تکراروو چې د دوحې بهیر له ګډونوالو غواړي د دې جامع تګلارې په چوکاټ کې خپل تعامل ته دوام ورکړي، څو له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د تدریجي بېرته یوځای کېدو لپاره لازم ملاتړ برابره شي.

واکمنو چارواکو ته په کار ده څو د دې تګلارې په اړه له یوناما سره د لا زیات تعامل او ګډ کار لپاره یو منظم میکانیزم جوړ کړي. غړي هېوادونه باید له واکمنو چارواکو سره په خپلو خبرو اترو او بحثونو کې، دا واضح کړي چې له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان بېرته یوځای کېدل د هغو اساسي، متوازنو او همکاروګامونو اخیستلو له لارې شوني دي، چې د باور فضاء رامنځته کوي او د نړیوالو مکلفیتونو پوره کولو د لازمي امر په ګډون، له نړیوال سیستم سره د افغانستان د بېرته یوځای کېدو مخه نیوونکو اساسي خنډونو د له منځه وړلو په موخه اخیستل کېږي.

یوناما لا هم د افغانستان لپاره د امنیت شورا لخوا تائید شوي، وروستي حالت د هدف ترلاسه کولو لپاره خپل وخت لګوي. دوامداره او روانې خبرې اترې او همدا راز اصولي او عملي تعامل – سره له دې چې د وروستي حالت پر لور پرمختګ ټکنی هم وي – اړین دي. د ستراتیژیک زغم، منظمې او منسجمې ډیپلوماسۍ او پرانیستو خبرو اترو په شتون کې، د افغانانو په بشپړ ملاتړ سره په دې برخه کې پرمختګ کېدای شي.

ډېره مننه.

پای